ژباړن: تمهید سیلانی

۲۰۲۰/۰۲/۱۸

# عایشه درانی څوک ده؟

درنو لوستونکو او پښتنو لیکوالو هیله ده لومړی دا لیکنه څیره کړئ. دویم: ددې نوم ورکې پښتني شاعرې په هکله په دري ژبه کې خورا زیاتې لیکنې شوي، چې له بده مرغه په پښتو ژبه کې حتا دا شاعره څوک نه پیژني. له پښتنو لیکوالو هیله کوم چې د عایشي درانی شعري دیوان را وسپړي او دهغۀ په ژوند، فکر، ادبي هڅو او نورو اړخونو لیکنې وکړي.

عایشه درانی د یعقوب علي خان توبچي باشي لور، د رحمان خان بارکزي دراني لمسی او دعمر خان بارکزي کړوسی ده. درانی د تیمورشاه او د تیمورشاه د زوی شاه محمود په پیر کې اوسېده.

دعایشي درانی د دیوان له لوستلو په ډاګه کیږي، چې ددې مېرمني زده کړې ډېرې پراخې وې. درانی د صرف، نحوی،معاني، بیان، تجوید، فقه، کلام او حدیث په برخه کې خورا زیات معلومات درلودل، هغې د وخت له علماوو څخه چې په (( اونچي باغبان)) سیمه کې چې د نني کابل د مهتاب قلعې ترڅېرمه دی، زده کړې کړي. عایشي درانی خپل لومړنی شعر د تیمور شاه پر وړاندې د کابل افق ګلفام په ستاینه کې ویلی دي:

شفق را لاله گـون دیـــدم نـمـاز شام در گردون
مگر خورشید را کشتند که دارد دامن پر خون؟

کله چې عایشي درانی یاد شعر وویل، هغه ۲۰ کلنه وه او همدا وخت یې د شاعرۍ پیل هم ؤ. دغۀ شعر پۀ ویلو سره د درباریانو او مشرانو لۀ خوا وهڅول شوه، ترڅو دې لړې ته دوام ورکړي او یو دیوان ترې جوړ کړي.

**د عایشي درانی د شعر ځانګړنې:**

د عایشي درانی په پیر کې ډېرې شاعرانو د جامي او حافظ د سبک لاره تعقیبوله، چې درانی هم د حافظ پر پل پښه ایښې. د لا ښۀ څرګندتیا لۀ پاره د دواړو اشعار د بېلګې په توګه راوړم:

حافظ:

دل مي رود ز دستم صاحبدلان خدا را
دردا کــه راز پنهان خواهد شد آشکارا

عایشه:

اي ساقي پریرخ یك جرعه بخش ما را



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## دل بــرده اي و ديـنـم پـنـهان و آشكارا

عايشي ځيني وخت لۀ مولانا څخه تقليد کړی او ځيني وخت ليدل کيږي چي د حافظ عبارتونه يې کټ مټ پۀ خپل شعر کي راوړي دي.

**د عايشي درانی د ادبي ژوند بدلونونه:**

**لومړی پړوا:** د غزل ويلو، ځوانۍ او سر مستۍ پړاو
**دويم پړاو:** د تصوفي اشعارو د مطالعي او پۀ عرفاني رنګ د اشعارو ييلو پړوا.
**درېيم پړوا:** د مرثيه سرايي، نيوکي او د بوازيتوب لۀ مرحلې وروسته د ماتي پړاو.

ليدل کيږي چي عايشي درانی د ځوانۍ پۀ جوش او مستۍ کي خپله خوښي د ګل اندام او ګلرخ لۀ پاره ځانګړي کړې وه او يو شېبه پرته لۀ معشوقي او شرابو وخت تېرول، غفلت ګڼي. يا پۀ بله وينا د فرخي سيستاني پۀ وينا :
جواني و از عشق پرهيز كردن
چه باشد نداني بجز جان گراني

مګر ناڅاپه يو ډول تنګ او ترلي شرايط پر ښځو واکمن کيږي او ددې پاکوالی او حجب تر پوښتني لاندې راولي، نو دی په دې توګه وايي :

گر بافلاك رسد قصر نشاط و طربت
آخــر از فعـل بـد پـشـيـمـان بـــودن

هغه وايي:

دارم اميد ز لطف و كرم رباني
جامه مغفرتم خلعت ايمان بودن

اخځ:

مقاله استاد غلام فاروق فلاح (استاد زبان و ادبيات كابل)
مجله ادب سال بيست و پنجم شماره چهارم 1356
د منديګک لۀ پاڼي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ